اې د الله رسوله! د سعد مور وفات شوې ده، نو کومه صدقه غوره ده؟، هغه وفرمايل: «اوبه»، وايي: نو څاه يې وکېندله، او ويې ويل: دا د سعد د مور ده

له سعد بن عباده رضي الله عنه څخه روايت دی چې فرمايي: اې د الله رسوله! د سعد مور وفات شوې ده، نو کومه صدقه غوره ده؟، هغه وفرمايل: «اوبه»، وايي: نو څاه يې وکېندله، او ويې ويل: دا د سعد د مور ده.
[د ټولو روايتونو په اعتبار حسن دی] [ابو داود، النسائي او ابن ماجه روايت کړی دی]

د سعد بن عبادة رضي الله عنه مور وفات شوه، نو له پېغمبر صلى الله عليه وسلم څخه يې پوښتنه وکړه چې تر ټولو غوره صدقه کومه يوه ده چې د خپلې مور پسې يې وکړي؟ نو رسول الله صلى الله عليه وسلم خبر ورکړ چې تر ټولو غوره صدقه اوبه دي، نو څاه يې وکېندله او د خپل مور پسې ئې صدقه وګرځوله.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/65613